# دامیرِ اهلِسُنَّت
# دسفرِ مدینه کال ۱۹۸۰ واقعات

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینة العلمیة (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د امیرِ اهلِ سُنَّت وړومبے سفرِ مدینه قسط 2 بنام

## د امیرِ اهلِسُنَّت د سفرِ مدینه کال ۱۹۸۰ واقعات

دعائے جانشینِ عطار: یا ربِّ مصطفٰی! څوک چې دا رساله "د امیرِ اهلِسُنَّت د سفرِ مدینه واقعات" اولولي که واوري. هغوئې د عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنَّت په برکت د مدینې حقیقي دیوانه جوړ کړې او د هغوئې نه د همیشه همیشه د پاره رضا شي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ پاك فضیلت

فرمانِ آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاته چې زما ذِکر اوکړے شي هغه له پکار دي چې په ما باندې درود شریف اولولي او څوک چې په ما باندې یو ځل درود شریف اولولي الله پاک به په هغه باندې لس رحمتونه نازل کړي.

(السنن الکبریٰ للنسائي، 21/6، حدیث: 9889)

کعبه کے بدرالدُّجیٰ تم په کروڑوں درود　　طیبه کے شمس الضحیٰ تم په کروڑوں درود

(حدائق بخشش، ص: 264)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مديني د حاضرئ وړومبئ شپه

د عاشقِ مدينه، امير اهلِسُنّت د آقائے مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاک ښار مدينه منوره کښې د حاضرئ وړومبئ شپه ده، د مسجدِ نبوي شريف ظاهري دروازې بندې شوې دي، [1] په جُمات شريف کښې يو څو ګسان د تهجدو لمونځ د پاره موجود دي، د صبحِ صادق ښکلے وخت دے، اميرِ اهلِ سُنّت د ډير شوق په حالت کښې د نور ورروونکې شنې جنګلې د زيارت نه خوندونه اخلې او د قدمين شريفين طرفته د بابِ جبريل نه د شين ګنبد د نور او رنړا په سورې کښې، بيا د هغه طرفه نه پشا پشا بل اړخ ته ځي، د خوند نه ډک به څومره عجيبه د زړه کيفيت وي- هغه شين ګنبد د کوم د زيارت د پاره چې کروړونه سترګې آرمانونه لرې د سترګو د وړاندې دے- د دې مزې او مستئ په حالت کښې وو چې يو ازميښت پرې راغلے، څه داسې اوشو چې عاشقِ مدينه د تاجدارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږ خوږ سنت زُلفان مبارک جوړ کړي وو. هلته د يو پوليس اهلکار په زړه کښې پته نه لګي چې څه خيال راغلے هغه هغوئ د ځان طرفته راوبللو او اوئې وئيل: ” تَعال“ يعني دلته راشه- چې کله هغوئ د هغه خوا له لاړل نو هغه پوښتنه اوکړه: دا څه کوې؟ د جانان په کوڅه کښې د شوق دغه ډکې جذبې په لفظونو کښې څنګه بيانيدے شوې! الله پاک ښه پوهيږي چې د هغه څه وهم شو د نور تفتيش کولو سره هغه د هغوئ نه پاسپورټ اوغوښتو، هغوئ اووئيل: هغه خو زما د اوسيدو په ځائے کښې دے- بيا هغه د هغوئ وَل په وَل زُلفانو ته اوکتل او اوئې وئيل: دا څه دي؟

---

[1] --- په هغه ورځو کښې به جُمات شريف د زيارت کوونکو د پاره ټوله شپه نه پرانستے کيدو-

عاشقِ سُنّت په مسکا شو او جواب ئې ورکړو: اَلسُّنَّة یعني دا سُنَّت دي- کیدے شي د دیني معلوماتو د کمي په وجه هغه د امیرِ اهلِسُنَّت ګیرې مبارکې له لاس وروړل او اوئې وئیل: هٰذِهِ السُّنَّة یعني دا ګیره مبارکه سُنَّت ده، زُلفان سُنَّت نه دي- دې اوریدو سره د امیرِ اهلِسُنَّت خیال هغه طرفته ته لاړو چې یو کال مخکښې مسجدِ حرام شریف کښې څه شر خوښي خلق راغلي وو د چا چې غټ غټ ویښته وو هغوئي هلته ډیرې بے ادبیانې کړې وې او په هغه دردناکه پیښه کښې ډیر حاجیان صاحبان شهیدان شوي هم وو بیا هغوئي اونیولے شو او ووژلے شو- هسې نه چرته د دې پولیس والا په ذهن کښې دا خو نه راځي چې زه په هغوئي کښې یم- بیا هغه خپل یو بل ملګرے کوم چې نزدې په ناسته اوده وو په لَته اووهلو- هغه چې څنګ پاڅیدو نو تهوپک ئې برابر کړو- د سحر د لمونځ وخت وو او د اوداسه وغیره حاجت، په دې حالت کښې د عاشقِ مدینه زړه ډیر بے تابه کیدلو چې پته نه لګي دوئي څه کول غواړي، پولیس والا د یوې نزدې کمرې دروازه پرانسته او دننه ئې د ننوتو اووئیل- هغوئي په زړه زړه کښې دې سوچ کولو سره پریشانه شول چې الله دې نه کړي که چرې زه دې خلقو دلته پریښودوم او دوئي لاړل نو طهارت او اودس او لمونځ به څنګه ادا کووم؟ په دې سوچ کښې بے اختیاره د هغوئي د ژبې مبارکې نه په خپله مورنۍ میمنۍ ژبه کښې اووتل: ”یا رسولَ الله! کِډا پهسائی ویو“ یعني یا رسولَ الله! زه په کوم ځائے کښې راګیر شوم؟ د دیوانهٔ مدینه د ژبې نه د دې جملې وتل وو چې د شعرِ رضا

واللہ وہ سُن لیں گے فریاد کو پہنچیں گے — اِتنا بھی تو ہو کوئی جو آہ کرے دِل سے

(وسائل بخشش، ص: 143)

په مِصداق د آقائے مدینه مدد راغلے، فریاد واوریدے شو- پولیس والا یو دم په خندا شو او د دروازې بندولو سره ئي بس صرف دومره اووئیل: ویښته واړه کړه-

مدد سرکار فرماتے ہیں دیوانہ اگر کوئی　　تڑپ کر یارسول اللہ کا نعرہ لگاتا ہے

(وسائل بخشش، ص: 436)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## مُصیبتونه لرې کوونکے

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنَّت په مدینه منوره کښې د وړومبۍ شپې د حاضرۍ په دې واقعه کښې د امیرِ اهلِسُنّت د لمونځ سره مینه او په سخت وخت کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې د فریاد دا انداز ډیر ایمان تازه کوونکے دے- یقیناً د لمونځ نه بغیر بنده د څه کار؟ لمونځ په یو حالت کښې هم نه دي پریښودل پکار، په سخت غم او مصیبت کښې چې کله اُمّتي خپل خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یادوي نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل پریشانه حاله اُمّتي مدد کوي او د مصیبت نه ئي خلاصوي ځکه چې هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک په عطا سره د غیبو نه خبر دے او د رابلونکي مدد کوي- د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مشهور لقب ”دافِعُ البَلَا“ یعني ”د مصیبتونو لرې کوونکے“ دے او د هغوئي دا لقب د قرآنِ پاک نه ثابت دے لکه څنګه چې په 9 سیپاره سُورۃ الاَنفال 33 نمبر آیت کښې د الله پاک ارشاد دے:

(وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَاَنْتَ فِيْهِمْ ؕ) ترجمهٔ کنز الایمان: ”او د الله پاک کار نه دے چې هغوئي له عذاب ورکړي تر څو پورې چې اے محبوبه ته په هغوئي کښې تشریف فرما ئې-“

اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: سُبْحٰنَ الله! زمونږ حضور دافعُ البَلا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کافِرانو هم سببِ دفعِ بَلا دے او په مسلمانانو خو خاص رؤف او رحیم دے- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم. (فتاویٰ رضویه، 379/30)

حضرت شاه ولي الله مُحَدِّثِ دهلوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکي: مونږ ته نه ښکاري خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په هر مصیبت کښې غمخوري کوي. (اطیب النغم في مدح سید العرب والعجم، ص: 4)

تڑپ کر غم کے مارو تم پکارو یارسول الله  تمہاری ہر مصیبت دیکھنا دم میں ٹلی ہوگی

(وسائل بخشش، ص: 392)

## د غلط فهمئ ازاله

د 7 صدئ هجرئ عظیم بُزرګ امام تقِيُّ الدین سُبکي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د مدد غوښتو دا مطلب نه دے چې حضور خالقِ وفاعلِ مستقل (یعني د الله پاک د عطا نه بغیر مدد کوونکے) دے دا خو یو مسلمان اراده نه کوي، نو په دې معنٰی باندې کلام اچوَل (یعني د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه مدد غوښتل د الله پاک سره میلاوهل) او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مدد نه منع کول په دین کښې مُغالَطَه کول او مسلمانان په پریشانئ کښې اچوَل دي. (شفاء السقام ص: 175)

حشر میں ہم بھی سیر دیکھیں گے  مُنکِر آج ان سے التجا نہ کرے

(حدائق بخشش شریف، ص: 142)

شَرحِ کلامِ رضا: اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په دې شعر کښې فرمائي: کوم خلق چې نن په دنیا کښې د الله پاک خواږه خلق "بے اختیاره" ګڼړي، د قیامت په ورځ به مونږه هم د هغوئي ښه تماشا کوو چې څنګه د بے وسئ او بے قرارئ سره د انبیاءِ کرامو عَلَیْہِ السَّلَام په پاکو دربارونو کښې د شفاعت د خیر غوښتو د پاره دیکې خوري! خو د ناکامئ سره به مخ وي- څکه خو وئیلے کیږي:

آج لے ان کی پناہ آج مدد مانگ ان سے　　　پھر نہ مانیں گے قیامت میں اگر مان گیا

(حدائق بخشش، ص: 56)

شَرحِ کلامِ رضا: یعني نن د مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اختیارونو اعتراف اوکړه (یعني اوئې منه) او د هغوئي د کرم په لمن کښې پناه واخله او د هغوئي نه مدد اوغواړه- که چرې تا دا ذهن جوړ کړو چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د الله پاک په عطا سره هم مدد نشي کولے نو یاد ساته! سبا چې به د قیامت په ورځ کله د الله پاک د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د محبوبئ شان ظاهر شي او ته اختیارونه اومني او د شفاعت په شکل کښې به د مدد د خیر د پاره منډې وهې نو هغه وخت به سرکارِ نامدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه "مني" چې دنیا "دارُ العمل" (یعني د عمل ځائے) وو که هلته دې "منلے وے" نو کار به شوے وے، اوس "منل" به دې پکار رانشي څکه چې آخِرت دار العمل نه دے "دارُ الجزا" (یعني په دنیا کښې چې کوم عمل اوکړې د هغې د بدلې ورکولو ځائے) دے-

بیٹھتے اُٹھتے مدد کے واسطے　　　یا رسولَ الله کہا پھر تجھ کو کیا

(حدائق بخشش، ص: 361)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## په خوب کښې ئې تشریف راوړلو او تسلي ئې ورکړه

د مکي مدیني تاجدار، د ټولو نبیانو سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو غلامانو د حالاتو نه ښنګه خبر دے په دې لړ کښې د امیرِ اهلِسُنّت د کال 1980 د سفرِ مدینه یوه بله واقعه اولولئ او خوشحاله شئ- د سَیِّدي قُطبِ مدینه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو مُرید حاجي اسماعیل مرحوم د بمبئ (هندوستان) اوسیدونکے وو، هغوئي ډیره موده په مدینه منوره کښې وو، هغوئي عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنّت ته اووئیل چې د ډیر عمر یوه زنانه د سرو زرو جنګلو مخې ته حاضره شوه او په خپل ساده انداز کښې ئې په بارګاهِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې سلام عرض کولو- په دې موقع د هغې یوې بلې زنانه ته پام شو چې د یو کتاب نه ئې په ښائسته القابانو کښې په بارګاهِ رِسالت کښې سلام عرض کولو- مشرې زنانه چې دا اولیدل نو خفه شوه او اوئې وئیل: یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما خو دومره سبق نه دے وئیلے، تاسو خو کیدے شي چې په دې ښه انداز کښې د لوستونکې زنانه سلام قبول کړئ زما سلام به ستاسو ښنګه خوښ شي! دومره وئیلو سره هغه په غم کښې ډوبه شوه او په ژړا شوه- کله چې د شپې اوده شوه نو قسمت ئې راویخ شو، د الله پاک په عطا سره د زړونو په خبرو پوهیدونکے غمخور آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خوب کښې تشریف راوړو:" مایوسه کیږې ولې؟ مونږ ستا سلام د ټولو نه مخکښې قبول کړے دے-"

تم اُس کے مددگار ہو تم اُس کے طرفدار  جو تم کو نکمّے سے نکمّا نظر آئے
لگاتے ہیں اُس کو بھی سینے سے آقا  جو ہوتا نہیں مُنہ لگانے کے قابل

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## امیرِ اهلِسُنّت او د مدینې زخم

په 1980ء کښې د امیرِ اهلِسُنّت د وړومبي سفرِ مدینه په موقع د مسجدِ نبوي شریف د مبارکې دروازې کومې ته چې د سلطان عبدُ المجید په نسبت سره بابِ مجیدي وئیلے شي په طرف سړکونه کنستلے شوي وو او په سړکونو کښې کانړي راوتي وو، عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنّت ښپې ابله ښپې د مدینې منورې په مبارکو سړکونو روان وو او د خپل پیر او مرشد د آستانې په لور د حاضرئ د پاره مخکښې تللو چې په یو کانړي مبارک سره ئې ښپه زخمي شوه- په ښپه کښې د نَو او پړسوب په وجه ورته په ګرځیدو کښې تکلیف شو- یو صاحب کوم چې په هسپتال کښې کار کولو او د سیّدي قُطبِ مدینه رَحۡمَةُاللهِ عَلَیۡه آستانهٔ عالیه ته به ئې حاضري کوله هغه به د ډاکټر صاحب او د عاشق په لقب سره بللے شو- د عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنّت چې کله د هغوئې سره ملاقات او خبرې اترې اوشوې نو هغه واقعې ډیر لوئې عاشق اوختو، اوئې وئیل: دا خو د مدینې زخم دے د دې علاج څنګه؟ بیا هغوئې د یو څو بزرګانو واقعې بیان کړې، د کومو اوریدو سره چې امیرِ اهلِسُنّت اوفرمائیل: زه به د دې مدینې د زخم علاج نه کووم- لکه:

یه زخم ہے طیبہ کا یہ سب کو نہیں ملتا　　　کوشش نہ کرے کوئی اِس زخم کو سینے کی

د هغه تکلیف سره هغوئې ښپې ابله ښپې ګرځیدل- یو ځل داسې د درد په حالت کښې د سرو زرو جنګلو ته حاضر شول او د آقائے مدینه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې ئې عرض اوکړو: یا رسولَ الله! دا ستاسو د مبارکې کوڅې زخم دے او تاسو زما د حالت نه خبر ئې، که چرې زه صبر اوکړم نو بیا خو به دا درد ټول ژوند زما سره وي او که چرې

تاسو دا ګنړئ چې زه به صبر اونکړے شم نو تاسو ته دا ټیک کول دي، زه به د دې علاج نه کووم- عاشقِ مدینه د ناز نه ډک په دې انداز کښې عرض اوکړو او واپس خپل د اوسیدو ځائے ته راغلو- په ګرمئ کښې د حاضرئ او په غرمو کښې د جوش په وجه په دریو څلورو ورځو کښې هغه درد پخپله ختم شو-

شافی و نافی ہو تم کافی و وافی ہو تم　　درد کو کر دو دوا تم پہ کروروں درود

(حدائق بخشش، ص: 369)

## د مدینې پاکې کوڅې

اے عاشقانِ مدینه! د کائنات د ټولو نه ښائسته ځمات، د عاشقانو د سترګو یخ مسجدِ نبوي شریف کښې به عموماً امیرِ اهلِسُنّت یواځې حاضري کوله- د عاشقان رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي لا شروع کړے شوے نه وو- یو ښکلې ماښام کښې عاشقِ مدینه په مسجدِ نبوي شریف کښې د حاضرئ نه پس د بابِ جبریل نه اووتو او جنَّتُ البقیع طرفته یواځې د مدینې په کوڅو کښې روان وو- په دغه مبارک دور کښې د بابِ جبریل مخې ته څه ودانئ وې د کومو مینځ کښې چې ډیره ښکلې وړه خو د عظمت په لحاظ سره ډیره ښکلې مبارکه کوڅه جَنَّتُ البقیع طرفته تلله- د برکت نه ډکه به ولې نه وي چې د مدینې د ښار د کوڅې کیدو شرف ئې بیاموندو، نور د فضیلت وجه دا چې په هغه مبارکه کوڅه کښې د ډیرو کورونو په باره کښې دا مشهوره وه چې دا د اهلِ بیت اَطهار کورونه دي او د بابِ جبریل مخې ته د کور په باره کښې وئیلے کیدل چې دا د مسلمانانو د وړومبي خلیفه، عاشقِ اکبر حضرت صدیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ کور مبارک وو-

هغه کوڅې ته به عاشقانِ رسول د جنَّت کوڅه وئیله- خو اوس هغه کوڅه مبارکه په ظاهري سترګو نه لیدلے کیږي ځکه چې هغه شهیده کړے شوه او په جُمات شریف کښې شامله کړے شوه-

پاوے اینا‌ں ګلیا‌ں دا دیدار جو  هو جاوے رحمتا‌ں دا حقدار او

تر ګئے جنهاں نے تک لیا‌ں  مدینے دیا‌ں پاک ګلیا‌ں

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ کور مبارک



## د مدينې د نوم اَدب

عاشقِ مدينه د بابِ جبريل نه د آقائے مدينه د ښار مدينې منورې د برکت نه په ډکو کوڅو تيريدلو مخې ته په زمکه په يو ځيز ''المدينه'' ليکلے شوې ئې اوليدله- زړه ئې خفه شو چې هغه مدينه د کومې نوم اخستو سره چې خُله خوَږيږي، هغه مدينه د کومې په نوم چې د عاشقانو د سترګو نه اوښکې روانيږي، هغه مدينه د کومې د نوم اخستو سره چې د جنت هوا لګي لکه څنګه چې اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ليکي:

نامِ مدینہ لے دیا چلنے لگی نسیمِ خُلد　　سوزشِ غم کو ہم نے بھی کیسی ہوا بتائی کیوں

(حدائقِ بخشش شريف، ص: 96)

هغه مدينه کومه چې د ټول کائنات قيمتي غمے دے، د آقائے مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د برکت نه ډک ښار دے- هغه نوم مبارک ئې په عقيدت او شوق سره ښکل کړو يو مشر ګَس چې دا اوليدل نو پته نه لګي چې په خپله ژبه کښې ئې څه اووئيل! اميرِ اهلِسُنّت لږ وړاندې تلے وو چې د وروستو نه د چا د سلام کولو آواز راغلے، چې وروستو ئې اوکتل نو يو پاکستانے ګَس وو هغه ډير په ښه انداز سره ملاقات اوکړو او عرض ئې اوکړو: د هغه ګَس نه مه خفه کيږئ- ستاسو د سرو زرو جنګلو د حاضرئ د وخت نه زه تاسو وينم- زما ستاسو اندازونه ډير خوښ شوي دي، تاسو زمونږ کور ته راځئ او هلته راسره ډوډئ اوخورئ- عاشقِ مدينه اوفرمائيل: چې زما د ډوډئ طلب نشته، بيا هغه عرض اوکړو: زما نه لږ رقم د ډالئ په توګه قبول کړئ- عاشقِ مدينه چرې هم د نه ختميدونکي عشقِ رسول د دولت نه مالا مال وو د هغوئي د دنيا د ناپائيداره دولت سره

څه کار، هغوئي د رقم اخستو نه انکار اوکړو او اوئې فرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زما سره رقم شته- بیا هغه د ځان سره د قیام کولو دعوت وړاندې کړو نو هغوئي اوفرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! زما سره د اوسیدو ځائے هم شته- هغه ډیر اصرار کولو خو هغوئي هغه منع کړو-

دیوانگی پہ میری ہنستے ہیں عقل والے | رستہ تری گلی کا پوچھا تری گلی میں
دیوانہ کر دیا ہے دیوانہ ہو گیا ہوں | دیکھا ہے میں نے ایسا جلوہ تری گلی میں

## د مدینې کوڅې

د مدینې د مبارکو کوڅو خو څه ښه خبره ده- هغه مبارکې کوڅې په کومو کښې چې حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په سوؤنو نه بلکه په زرګونو ځل ګرځیدلے دے، د صحابهٔ کرامو او اهلِ بیتِ اَطهار عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان مبارک د کورونو نخښې دي، د هغه مبارکو کوڅو شان څنګه بیانیدے شي- د مدینې منورې په شان کښې ډیرو شاعرانو د دنیا په مختلفو ژبو کښې په زرګونو شعرونه لیکلي دي- سَیِّدي قُطبِ مدینه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: سید المجد حسین امجد حیدر آبادي په مدینه منوره کښې خپل مشهور نعت زما په کور کښې اولیکو- (انوارِ قطبِ مدینه، ص: 231) په هغه نعت کښې د مدینې منورې د مبارکو کوڅو ذِکرِ خیر ډیر په ښکلي انداز کښې شوے دے- د هغه نعت ځینې شعرونه دا دي:

کس چیز کی کمی ہے مولا تری گلی میں | دنیا تری گلی میں عُقبیٰ تری گلی میں
کس طرح پاؤں رکھیں یاں صاحبِ بصیرت | آنکھیں بچھی ہوئی ہیں ہر جا تری گلی میں
موت و حیات میری دونوں ترے لیے ہیں | مرنا تری گلی میں جینا تری گلی میں

سورج تجلّیوں کا ہر دم چمک رہا ہے — دیکھا نہیں کسی دن سایہ تری گلی میں
امجدؔ کو آج تک ہم ادنیٰ سمجھ رہے تھے — لیکن مقام اس کا پایا تری گلی میں

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عاشقانو خپل انداز وی

د مدينې د عاشقانو هم څه بېلې رنګونه وي، چا عاشقِ مدينه امیرِ اهلِسُنَّت ته د کال 1980 په سفرِ مدينه کښې اووئيل چې د کراچۍ نه څه حاجيان صاحبان مدينې منورې ته حاضر شو او هغوئې يو کور په کرايه واخستو په هغه کور کښې به لړمانان راوتل، خو هغه عاشقانِ رسول حاجيانو صاحبانو به هغه لړمانان نه وژل چې دا د مدينې لړمانان دي-

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د خپل خپل عشق او خپل خپل شوق خبره وي- د عشق او محبت دا انداز د نصيبونو والا برخې دي- تر څو چې شريعت د څه کار نه منع نکړي د هغې نه منع کيدل صحيح نه دي ځکه چې کومه خبره د شريعت نه خلاف نه وي د هغې نه مونږ څنګ منع کولے شو؟ تکليف رسوونکي ځناور حالانکه بے ضرورته هم وژلے شي خو وژل ئې واجب هم نه دي، آؤ، که چرې خپل ځان يا بل چاته د نقصان رسيدو انديښنه وي نو بيله خبره ده خو که چرې يو لړم يا زمزه چرته ځي او تاسو ته څه تکليف هم نه رسوي نو اوس ئې وژل ضروري خو نه دي او که چرې څوک د څه نسبت په وجه د دې د وژلو نه ځان ساتي نو د هغه عاشقِ رسول څه بنکلې

خبره ده- الله کريم! دې مونږ ته هم د خپل خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عاشقانو د عشقِ مدينه برکت نصيب کړي-

## د عشق او محبت يو بل انداز

عاشقِ مدينه اميرِ اهلِسُنَّت فرمائي: د مديني منورې د کجورې مبارکې هډوکے هم غورځول نه دي پکار بلکه که کيدے شي نو د ګنډيرو کټ کولو په اوزار وغيره ترې ورې ورې ټوټې جوړې کړئ او موقع په موقع ئې په خُله کښې اچوئ او خورئ ئې يا ئې بيا چرته دفن (ښخ) کړئ- د مديني منورې سره د نسبت په وجه که چرې داسې ادب کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ثواب به ميلاويږي-

## په مدينه منوره کښې د کَشِش وجه

د مديني مينه والو! چې څنګه اوس د کال 2022ء پورې په عرب شريف کښې ظاهري طور د مصنوعي ښکلا مختلفې نظارې پيدا کړے شوې دي- د اميرِ اهلِسُنَّت د کال 1980 د مديني په حاضرئ کښې په ظاهره داسې څه نه وو- د عربو د صحرا او د مديني د فضا جلوې وې- مختلف شاعران په نعتونو کښې مدينه منوره ګلزارِ مدينه، باغِ مدينه، ګلشنِ مدينه وغيره لفظونو سره بيانوي د کومې نه چې دا لګي چې کيدے هلته په ظاهره هم هر خوا شينکے او ښکلې نظارې وې خو د عاشقِ مدينه عشقِ مدينه جواب ورکړو: که چرې په مدينه منوره کښې واقعي ظاهري قدرتي داسې شينکے او ښکلې نظارې وے نو کيدے شي چا وئيلے شوے چې خلق مديني منورې ته د دغه ښکلو

نظارو کتو  د پاره ځي ولې په حقيقت کښې داسې نه ده- د عاشقانو په زړه او دماغو کښې د دنيا د ټولو نه ښکلې نظاره شين ګنبد شريف او د سرو زرو د جالو جلوې پرتې دي- د مدينې عاشقان ځکه مدينه مدينه وائي، د مدينې آرمانونه کوي، د هغې د کتو د پاره بے تابه دي چې هلته آقائے مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پخپله تشريف فرما دے- يو بل شاعر خومره ښکلې خبره کړې ده:

صحرائے مدینہ کے جب دیکھ لیے جلوے　　　گلشن کے نظارے سب بے کار نظر آئے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مدينې په ياد ئې کلام اوليکلو

عاشقِ مدينه اميرِ اهلِسُنَّت د حَرمينِ طَيِّبَين د زيارت کوونکو د لار ښودنې د پاره "رفيقُ الحَرَمين" نومې کتاب ليکلے دے په کوم کښې چې په مکه مدينه کښې د حاضرئ د ادابو سره سره د حج او عمرې طريقه او د حج او عمرې اهمې دينې مسئلې بيان کړے شوې دي. [1] (1) هغوئي فرمائي: زه د دې کتاب په تنهائيئ کښې د ليکلو د پاره کلفتِن (کراچۍ، پاکستان) کښې د دعوتِ اسلامي مرکزي مجلسِ شورىٰ د رُکن حاجي عبد الحبيب عطاري د والد صاحب حاجي يعقوب ګنګ صاحب (مرحوم) سره

[1] --- دا کتاب د دعوتِ اسلامي د ويب سائټ www.dawatislami.net نه فري ډاؤن لوډ کيدے شي، د مدينې زيارت کوونکو ته دا کتاب ډالئ کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ثواب خزانې سره سره به مو معلومات هم زيات شي-

اوسیدم،[1] د سپرلي موسم شروع شو نو د کورونو نه بهر په کیارو کښې قسما قسم ښکلي ګلونه راوټوکیدل، د هر کور نه بهر ګلونه ګلونه وو، په دغه وخت کښې زما پام د مدینې د صحرا د ښکلي والي طرفته لاړو نو د عطّار زړه دا فیصله اوکړه چې د مدینې د صحرا د ښکلا مخې ته د دې ګلونو ښکلا هیڅ هم نه ده، ځکه چې په ښکلا کښې انسان د ورکیدو سره په غفلت کښې ډوبیدے شي ولې بنده چې د مدینې په یاد کښې ځومره مخکښې لاړ شي هغه همره منزل ته نزدې کیږي، په دغه سوچونو کښې عاشقِ مدینه قلم راواخستو او د خپل زړه کیفیات ئې څه داسې د شعرونو په شکل کښې قلمبند کړه:

جس طرف دیکھئے گلشن میں بہار آئی ہے　　دل مگر دشتِ مدینہ کا تمنّائی ہے
خوشنما پھول گُلستاں میں کھلے ہیں لیکن　　میرا دل خارِ مدینہ ہی کا شیدائی ہے[2]

(آډیو بیان: (نگاہ مصطفٰی کی ادائیں)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د امیرِ حمزه په مزار حاضري

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ټوله مدینه د زیارت ځائے دے، څه د مدینې غرونه او څه د مدینې صحراګاني، د مدینې ښارونه دي که مبارک غارونه، هر خوا سپرلے سپرلے

---

[1] --- د رفیق الحرمین د کتاب لیکلو او دې باره کښې نور خوندور معلومات به د شعبه هفته وار رسائل له خوا ډیر زر جاري کړے شي. اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم!

[2] --- مکمل کلام پڑھنے کےلئے وسائل بخشش صفحہ 494 کا مطالعہ کیجئے۔

دے، د مدینې منورې په مبارکو د زیارت په ځیونو کښې یو اهم زیارت جبلِ اُحد شریف او مزارِ حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دے- عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنَّت څو ځل عَمِّ رسول، اسدُ اللهِ و اَسَدُ رَسوله یعني د الله پاک او د هغه د خوږ آخري رسول ازمري حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په مزار مبارک د حاضرئ سعادت حاصل کړو. امیرِ اهلِسُنَّت د کراچۍ نه یواځې د مدینې په سفر روان شوے وو خو هلته ورسره یو پیژندګلو ګس میلاؤ شوے وو، هغوئي د هغه سره د حاضرئ د پاره لاړل- د حضرت امیرِ حمزه رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مزار شریف سره خوا کښې نور د اُحد شهیدان صحابهٔ کرام عَلیهِمُ الرِّضوَان هم آرام کوي- په دغه مزارونو مبارکو باندې حاضري ډیره د سعادت خبره ده، ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به بچپله د هر کال په شروع یا آخر کښې د اُحُد د شهیدانو عَلیهِمُ الرِّضوَان زیارت له تشریف وړلو-

(تفسیر در منثور، پ: 13، الرعد، تحت الآیۃ: 24، 640/4، 641)

## د اُحُد شهیدان د سلام جواب ورکوي

په یو روایت کښې دي د الله پاک رحمت والا نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُحُد د شهیدانو د زیارت د پاره تشریف یوړلو او عرض ئې اوکړو: یا الله پاکه! ستا بنده او ستا نبي ګواهي ورکوي چې دا شهیدان دي او د قیامت د ورځې پورې چې څوک د دوئي د زیارت د پاره راځي او په دوئي سلام وائي دوئي به جواب ورکوي- (مستدرک، 569/3، حدیث: 4376)

## د اُحُد د شهیدانو کرامات

تقریباً 1000 کاله مخکښې بزرګ حضرت امام ابو بکر احمد بن حسین بَیهقي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

په خپل کتاب ”دلائلُ النبوة“ کښې ليکي: يو صاحب وائي چې زه خپل والدِ محترم د مديني منورې نه د اُحُد د شهيدانو د مزارونو مبارکو په لور بوتلم، د جُمعې ورځ وه، سحر شوے وو خو لمر لا راختلے نه وو، زه د خپل والدِ محترم شاته ولاړ ووم- چې مونږ د مزارونو مبارکو خوا ته اورسيدو نو زما والد صاحب په اوچت آواز عرض اوکړو: سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ بِمَا صَبَرْتُمْ فَنِعْمَ عُقْبَى الدَّارِ په تاسو دې سلامتي وي ځکه چې تاسو صبر اوکړو نو د آخرت ښه انجام څومره ښکلے دے- جواب راغلے: وعليکم السلام يَا اَبَا عبدِ الله- زما والد صاحب ماته اوکتل او اوئې وئيل اے زما ځويه! تا جواب ورکړے دے؟ ما عرض اوکړو: نه- هغوئي زما لاس اونيولو او خپل ښي اړخ ته ئې کړم او بيا ئې دغه سلام عرض کړو: بيا هغه شان جواب ميلاؤ شو، په دريم ځل ئې بيا سلام اوکړو نو بيا هغه جواب عنايت شو- په دې زما والدِ محترم د الله پاک په بارګاه کښې په سجدهٔ شُکر پريوتلو- (دلائل النبوة للبيهقي، 309/3)

سیّدی حمزہ کو اور جُملہ شہیدانِ اُحُد کو بھی اور سب غازیوں کو شہسُواروں کو سلام

(حدائق بخشش، ص: 610)

اے عاشقانِ رَسُول! د صحابهٔ کرامو او اوليائے عظامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان په مزارونو مبارکو باندې حاضرې ورکول او د هغوئي په بارګاه کښې سلام عرض کول د خوش قسمتو برخه ده، اوګورئ! تقريباً د 1000 کاله مخکښې بزرګ رَحمَةُاللهِ عَلَيه د کتاب نه په مزارونو مبارکو د حاضرئ ثبوت ميلاؤ شو او د اُحُد د شهيدانو کرامت هم ظاهر شول، ځان قربانوونکو صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان يواځې د سلام جواب ورنکړو بلکه د الله پاک په عطا سره ئې د سلام کوونکي نوم او کُنيت هم اوپيژندلو-

د اللّٰهُ ربُّ العِزّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي. اٰمِیۡن بِجَاهِ النَّبِیِّ الۡاَمِیۡن صلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اللّٰہ غنی! شانِ ولی! راج دلوں پر دنیا سے چلے جائیں حکومت نہیں جاتی

(وسائل بخشش، ص: 383)

د الله پاک خوږ آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کله پخپله د اُحُد د شهیدانو مزارونو مبارکو ته تشریف یوړلو نو اوس د یو الله والا مزار شریف ته په تللو کښې څه باک کیدے شي- الله کریم! دې مونږ ته د عاشقانِ رسول صحبت نصیب کړي او د بزرګانِ دین په مزارونو دې د ادب او تعظیم سره د حاضرئ کولو سعادت راعطا کړي-

آل و اصحاب سے محبّت ہے اور سب اولیا سے اُلفت ہے

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## عاشقِ رسول جنَّتي غر

عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنَّت د اُحُد د شهیدانو په خدمت کښې د حاضرئ کولو نه پس د مدینې منورې ډیر مشهور عاشقِ رسول غر د زیارت د پاره لاړلو، دا داسې خوش قسمته غر دے چې د ده په خوش قسمتئ خومره رشک اوکړے شي هغه به هغه همره کم وي، کاش! چې زه د دې غر یو وړوکے شان کانړے وے- په دې سعادت مند غر د رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قدمونه مبارک لګیدلي دي او رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې غر په باره کښې ارشاد فرمائیلے دے: هٰذَا اُحُدٌ یُحِبُّنَا وَنُحِبُّهٗ یعني دا اُحُد غر زمونږ سره محبت کوي

او مونږ د ده سره محبت کوو. (بخاري، 150/3، حديث: 4422)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: اُحُد شريف د مديني منورې نه د مشرق په طرف تقريباً درې ميله لرې يو غر دے د مديني منورې خاص طور د جنّتُ البقيع نه صفا په نظر راځي، هلته د اُحُد د شهيدانو خاص طور د سيدُ الشُّهداء امير حمزه رَضِىَ اللهُ عَنۡهُم مزارونه دي، زيارت کوونکي ګڼړ شمير کښې د دې غر زيارت کوي، ما حاجيان صاحبان د دې غر سره لګيدلي په ژړا او د هغه ځائے په کاڼړو ښکلولو ليدلي دي- د هر مؤمن په زړه کښې قدرتي طور د دې محبت دے- حق دا دے چې پخپله غر د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره محبت کوي، په لرګو او کاڼړو کښې ئې احساس هم دے او د محبت او دښمنئ ماده هم، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جدائيئ کښې اوښانو هم اوژړل او لرګو هم ژړا فرياد او زاري کړې ده- ځکه حق دا دے چې پخپله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُحُد غر سره، د دې علاقې سره، د دغه ځائے د کاڼړو سره مينه کوي او دا ټول خيزونه بِعينه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره مينه کوي- (مرآة المناجيح، 4/ 219) نور په يو بل ځائے کښې ارشاد فرمائي: چاته چې د کاڼړي د زړه حال معلوم دے آيا هغوئي ته به د انسانانو د زړه حال معلوم نه وي-

(مرآة المناجيح، 2/ 113)

پہاڑوں میں بھی حُسن کانٹے بھی دِلکش بَہاروں نے کیسا نِکھارا مدینہ

(وسائل بخشش، ص: 355)

اے عاشقانِ مدینه! دا مبارک غر تقريباً پاؤ کم څلور ميله خور دے- دا عاليشانه غر د

جنّت د دروازو نه په یوه دروازه دے۔ (معجم اوسط، 37/5، حدیث: 6505)

په یو بل حدیث شریف کښې دي اُحُد غر د جنّت د غرونو نه دے۔ (معجم اوسط، 18/17، حدیث: 19) د دې مبارک غر په سر د اللّٰه پاک د خوږ نبي، حضرت موسٰی کلیم اللّٰه عَلَیْهِ السَّلَام د وروړ حضرت هارون عَلَیْهِ السَّلَام مزار شریف هم دے۔ (خو اوس د دې زیارت ډیر ګران دے) (ارشاد الساري، 148/9، تحت الحدیث: 4084)

## پړقیدونکے کانړے

عاشقِ مدینه امیرِ اهلِسُنَّت فرمائي: ما چې کله د جبلِ اُحُد شریف زیارت اوکړو نو هغه وخت د ګرمۍ شریفې هم حاضري وه، ما خپل ملګري ته اووئیل: اوګوره کنه! کانړي څنګه پړقیږي۔ حقیقت خو دا دے چې د مدینې منورې په یو یو کانړي د دنیا ټول لعلونه او ملغلرې قربان۔ د اُحُد شریف نه چې د واپس تللو وخت راغلے نو د واپسۍ لاره یاده نه وه، څلور واړو اړخونو ته غرونه وو او د بیرته تللو لاره په نظر نه راتلله۔ څوک داسې کَس هم نزدې نه وو د چا نه چې لاره معلومه کړے شي، د امیرِ اهلِسُنّت ملګرے پریشانه شو خو د عاشقِ مدینه په مخ باندې بالکل اطمینان او سکون وو لکه چې:

ہم مدینے میں تنہا نکل جائیں گے اور گلیوں میں قصداً بھٹک جائیں گے
ڈھونڈتے ڈھونڈتے لوگ تھک جائیں گے ہم وہاں جا کے واپس نہیں آئیں گے

د عاشقِ مدینه د زړه کیفیت دا وو چې دا خو زما د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک ښار دے دلته ماته د کوم څیز پریشاني، امیرِ اهلِسُنّت د اُحد شریف په مبارکو

کانړو سملاستو او د مولانا جميل الرحمان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه دا شعرونه ئې لوستل شروع کړه:

لاشہ میرا طیبہ کے بیاباں میں پڑا ہو　　اور روح بنے بُلبُلِ بُستانِ محمد

يعني کاش! ماته د مديني منورې په پاکه صحرا وغيره کښې داسې مرګ راشي چې زما مړے پروت وي او زما روح د بُلبُل پشان پرواز کوي او د محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ) د باغ سيل کوي۔

عاشقِ مدينه په خپل عشق او مستئ کښې مصروف وو ولې د هغوئي د سفر ملګرے پريشانه وو کيدے شي چې د هغه په خيال کښې هم نه راتلل چې دا څنګه عاشقِ رسول دے چې لاره نه ميلاويږي، مرګ په سر ولاړ دے او ده سره هډو څه غم نشته۔ که چرې دلته شپه شوه نو بيا په ظاهره څوک بچ کوونکے هم نشي راتلے۔ خو اميرِ اهلِسُنّت سل فيصده مُطمئين وو۔ په زړه او ذهن کښې ئې بس دا خيال وو چې مونږ چرته يو؟ په مدينه کښې! د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په لمن مبارکه کښې! عاشقِ مدينه په حديث شريف د عمل کولو په نيت د اُحُد شريف څه بوټي، ګيا وغيره هم استعمال کړه چې په حديث شريف کښې دي: مديني والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چې کله تاسو اُحُد غر ته لاړ شئ نو د هغه ځائے څه ونې (يعني د ونو پاڼړې) يا ګيا اوخورئ۔ (معجم اوسط، 516/1، حديث: 1905) آخر د بيرته تللو لاره ميلاؤ شوه او بيا د هغه ځائے نه بيرته خپل د اوسيدو ځائے ته راغلل۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربيّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدينه**" په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني اِنعاماتو" عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فيضانِ مدينه محلّه سوداگران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com